مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۱۹ / ۱۲ / ۱۷

خوښي

پتنګان د ډیوې مینه کې ستي دي
د سپرلي وړمو ته ګل په ډنډر ناڅي
کرامت د انګور نه بولې نو څه دي
چې ساقي په لاس کې جام و ساغر ناڅي
د خیالو د سمندر څپو اخیستی
شاوخوا را نه چاپېر بحروبر ناڅي
لاندې ځمکه مې تر پښو لاندې مستي کړي
پاس اسمان کې راته ستوري، قمر ناڅي
ارامي د طبیعت خټه کې نشته
جهان واړه د فلک پر محور ناڅي
توند بادونه، توپانونه به په لار وي
توري وریځې چې د غرونو پر سر ناڅي
ښادي مه ګوره د هغه ملت ژوند کې
چې ملا ورته په ستیژ او ممبر ناڅي
د یو داسې ملک، وطن په لټه ګرځم
چې وګړي یې ماښام و سهر ناڅي
تګ مه نه شي د هغه محفل له منځه
چې جوړه راسره یوځای دلبر ناڅي
غنیمت ګڼه خوښي، که څو شېبې وي
غم خو هسې د ژوندون په بستر ناڅي
مازیګر مې د هغو نجونو یادیږي
چې لا هم یې منګوټي په ګودر ناڅي
خپلواکي د هغه ملک به ابدي وي
چې ځلمیان یې په مورچل او سنګر ناڅي
ابا سیند او امو غاړه غړۍ وینم
هندوکش سره پامیر او سپینغر ناڅي
د هغه جشن په تمه، هیله پایم
چې ځوانان پکې د لرو د بر ناڅي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ